# اې د الله رسوله! د سعد مور وفات شوې ده، نو کومه صدقه غوره ده؟، هغه وفرمایل: «اوبه»، وایي: نو څاه یې وکښندله، او ویې ویل: دا د سعد د مور ده

له سعد بن عباده رضي الله عنه څخه روایت دی چې فرمايي: اې د الله رسوله! د سعد مور وفات شوې ده، نو کومه صدقه غوره ده؟، هغه وفرمایل: «اوبه»، وایي: نو څاه یې وکښندله، او ویې ویل: دا د سعد د مور ده.

[د ټولو روایتونو په اعتبار حسن دی] [ابو داود، النسائي او ابن ماجه روایت کړی دی]

د سعد بن عبادة رضي الله عنه مور وفات شوه، نو له پېغمبر صلی الله علیه وسلم څخه یې پوښتنه وکړه چې تر ټولو غوره صدقه کومه یوه ده چې د خپلې مور پسې یې وکړي؟ نو رسول الله صلی الله علیه وسلم خبر ورکړ چې تر ټولو غوره صدقه اوبه دي، نو څاه یې وکښندله او د خپل مور پسې ئې صدقه وګرځوله.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/65613

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee